# لکی مروت؛ د خیبر پښتونخوا پولیسو او زړور وولس د ترهګرو پر ضد کلک ولاړ دي

لکی مروت سره نزدې بخمل احمدزئي سیمه کښې په عصری وسایلو سمبال د پولیس چیک پوسټ باندې تعینات پولیس اهلکارو په وخت د ترهګرو تګ راتګ نشاندهي کولو سره په وخت په نښه کړل چې دغا مهال د سیمې خلکو د پولیسو پوره ملاتړ وکړ او ترهګر یې په تښته مجبور کړل۔

**د تفصیلاتو ترمخه تیره شپه د بخمل احمدزي په پوسته د پولیس اهلکارو د اووه نه تر اتو پورې هغه ترهګر په نښه کړل کوم چې په لکی مروت او شاوخوا سیمو کې د ترهګریزو فعالیتونو په لپاره تګ راتګ کاوه۔ پولیس چې د څارنې په عصري وسایلو سمبال وو ترهګر په نښه کړل۔ د ډزو اواز په اورېدو سره د سیمې زړور خلک د پولیسو مرستې ته ورغلل، چې د پولیس او وولس د کلک ملاتړ له کبله خوارج وتښتېدل۔**





**د خیبر پښتونخوا د پولیسو په موثریت کې وروستي زیاتوالي د پولیسو پر کارکوونکو باور زیات کړی او ترهګرو ته د سنبالیدو موقعه نه ورکوي۔**

د لکی مروت ولس تل د ترهګرۍ پر ضد په عملی توګه د امنیتی ادارو ترڅنګ ولاړ دی، چې دا د خوارج لپاره د خلکو د ژورې کرکې ثبوت دی۔ ولس یو ځل بیا ثابته کړه چې د دغو سوله ضد او اسلام ضد خوارجو شتون به ونه زغمي او له امنیتي ادارو سره په ګډه به د دوی پر وړاندې هر حد ته ولاړ شي، څو په سیمه کې دایمي سوله تامین شي۔